Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست

له باغونو تر وزارتونو؛ د طالبانو پېژندګلوي او بیا را څرګندېدل..... 5
تېر به هېر کړو؛ بدو پسې به اوبه توی کړو 6
د طالبانو حیرانونکی منظر 8
مورِ همدا نه غوښتل؟..... 9
اوس به څه کیږي؟ 10
امریکا ماته شول او که په خپله خوښه ووتل؟ 11
امریکا په افغانستان کې پریوه وخت درې ماتې وخوړې 13
ویتنام او افغانستان؛ د یوې ډرامې دوه ځلي تکرار 14
دا هغه طالبان نه دي..... 15
یو څو نوري اړیني خبرې 16
طالبان بې وفا نه دي؛ تر مرګه ملګري کوي 16
طالبان ظالمان نه دي..... 16
تاسو او دین دواړو ته به طالبان عزت و بخښي 16
راتلونکي کې به څه کیږي؟ 17
ایا طالبان په یوه ورځ وطن جوړ کړي؟ 17
عوام و چاته زیان رسوي؟ 17
د بیرغ مسئله کوچنۍ نه، ډېره ژوره ده..... 18

(c) ketabton.com: The Digital Library

څونده لوی فکر وکړو؟ 19
د طالبانو لباس او مقرری 20
شیخ ملا هبة الله حفظه الله ژوندی دی او که یا؟ 22
د اسلامي سیاست ځنې ځانګړنې دي: 22
طالبان او ډیورنډ 23
د ډیورنډ لپاره د لستونې مارشوک دئ؟ 23
له هیواده څوک او ولي تښتي؟ 24
د طالبانو د نظام ریښې کښل څه تاوان لري؟ 25

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کایناتو د مخلوقاتو د رب په نامه په لیکلو شروع کوم

بسم الله الرحمن الرحیم

راتلونکو صفحو کې چې تاسو څه لولی، زه پوره ضمانت کوم، چې حق به وي، زما، ستاسو، ستاسو د کورنیو، د طالبانو د نظام او د افغانستان د راتلونکي په ګټه به وي.

هغه قلم دي مات شي، چې د الله تعالی ناخوښه یا و مخلوقاتو ته زیان رسونکي شیان په لیکل کیږي. ما د خپل رب نه غوښتنه وکړه: "یا الله! که به زه په دې کتاب کي د دین، هیواد یا خلکو په تاوان څه لیکم، نو توفیق یې مه راکوې. امین"

اوس نو که دا کوچنۍ کتاب و تاسو ته ورسېد، نو زما دعا قبوله شوې ده. ماته، ځانته، خپلي کورنۍ ته او دا درانه، ویاړلي، تاریخي افغانستان ته دعا وکړئ. الله سبحانه و تعالی مهربانه دئ، زمونږ ځورېدلو، کړېدلو او مظلومو دعا به واوري او وطن به جنت کړي.

زما دي د کایناتو په سپیڅلي رب قسم وي، چې دا کتاب به ستاسو ذهن ارام کړي او زړه ته به مو ډاډ درکړي. په دې شرط که تاسو د ضدیت عینکي له سترګو لیرې، د عقدې او دښمنی فکر له ذهنه و باسی او زړه مو ورته خالص کړئ.

را به سم د دې لیکنې اصلي هدف ته، دا لیکنه مي د دې څو موخو په نیت وکړل؛ طالبان څوک دي او څنګه راغلل؟ د چا خبره به منې؟ په چا پوري به اړه لري او دې ته ورته زمونږ د افغانانو نورې ډېرې اندېښنې او خبرې.

د کتاب پاڼه واړوئ، مخته لاړ شئ او ستونزې مو حل کړای

په اسلامي مینه

مولوي غلام الله عمرو

چهار شنبه ۱۰/سنبله/۱۴۰۰

۱/سپټمبر/۲۰۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

له باغونو تر وزارتونو؛ د طالبانو پېژندګلوي او بيا را څرګندېدل

له کلهنه چې د حکومت په شروع کې د افغانستان په ځينو سيمو کې خال خال ټک او ربدل کېدی، نو افغان حکومت او امريکا د طالب شتون و منی او دا يې وويل، چې طالبان پيدا شوي.

موږ ته ويل کېدل، چې طالبان پنجاپيان دي، د پاکستان په لمسون هر کار کوي، دوست او دښمن نه پېژني؛ خلک د څټ لخوا حلالوي، و مکتب ته د تلونکو نجونو پر مخ تېزاب پاشي او د موچې په تار انسانان پر خټه غوټ پرې کوي.

وروسته معلومه شول، چې دا وحشتونه د استخباراتو او امريکايانو کار وو، غوښتل يې خلک او عسکر د طالبانو په مقابل کې احساساتيان کړي، خو دوی دې کې بريالي نه شول، ځکه طالبان د اولس له منځه را پورته شوي وه، طالبان د داغه ښار خلک وه. ټوله ورځ به يې دوکان کوی يا به يې کوم دفتر کې دنده اجرا کول ترڅنګ به يې د طالبانو ملګری وو او د امريکا په مقابل کې به يې جهاد کوی. دا خبره هغه وخت نوره هم ښه واضح او روښانه شول، چې کله طالبانو بيا ځلي افغانستان ونيوی، نو موږ په خپلو سترګو خپل کليوال، د بازار دوکانداران او قريبان د طالبانو په منځ کې وليدل. ايا زما ملګری زما د خور پر مخ تېزاب پاشي او که زما ورور د موچې په تار حلالوي؟

امريکايانو د افغان حکومت سره يوه ناکامه پاليسي جوړه کړل؛ د خلکو پر کورونو به ور اوښتل، افغانه مېرمن او خاوند به په خوارۀ خوب بيده وه د توپک په شپېلی به يې را ويښ کړل، زما د خور، مور او لور د کالو په بکسونو کې به ګرځېدل، ږيره لرونکي به يې له ځمکې ورک کړل، خلک به يې ريګو کې ژوندي خښ کړل، مدرسې يې بدنام کړې، پر هر کونج به يې تلاښی کولې او، او...

مونږه به يې پنجابيان بللو، خو نن مونږه په خپل هيواد کې ناست ياستو، خو دوی پاکستان کې پناه اخيستې. عجبه نه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خلکو احساسات نور را و پارېدل، خلکو نور هم د طالبانو لاس نیوی شروع کا. داسي مېرمني وې، چې خاوند به يې بايللی وو، اوس به يې و خپل ۱۲ کلن زوی ته د پلار د بهادری او د ظالمانو د بې رحمی کیسې کولې، ترڅو زوی يې د امریکا او د هغوی له پلویانو څخه خپل غچ واخلي. داسي مینديې به وې دري زامن به يې بايللي وه څلورم زوی به يې واستاوه، داسي ۷۰ کلن بوډاګان به وه، چې په ږېره ږدلو لاسو به يې د زوی و اولادو ته نفقه ګټل، خو ځوان مست زوی به يې جهاد ته لېږه.

له بلي خوا امریکا په لوی لاس د حکومت سپي او خاین چارواکي په فساد روږد کړل، بې حسابه پیسې به يې ورکولې، ادارو کي رشوت، فساد، فحشاء او هرڅه اوج ته ورسېدل.

امریکا پر نړیوالي ټولنې د مرستي بڼ وکړ، هغوی هم په بې غمه زړه و افغانانو ته خپل مرستي شروع کړې، زیاته برخه يې بیرته امریکایانو ایستل، هغه پاته پیسو باندي به لږ انکشافي کارونه کېدل او نوري پیسې به د فحشا لپاره کارول کېدې. ښه بېلګه يې خارجي مؤسسات وه، چې په هغو کي د ۴۰ سلنه ښځینه کارمندانو شتون خامخا شرط وو. دا ټولي ناغېړی، بې غوری، ناکامه پلانونه سره راجمع شول او خلک يې دې ته تشویق کړل، چې نور هم و طالبانو ته غېږه خلاص کړي. د خلکو مینه موږ په ښارونو کي ولیدل، چې د طالبانو په راتګ سره خلکو جشنونه لمانځل.

تېر به هېر کړو؛ بدو پسې به اوبه توی کړو

راسئ، یو ښایسته، ارامه زنده ګي جوړه کړو، زمونږ یکي یو خدای بیخي مهربانه دئ، دا وطن به هم جوړ شي، دا خلک به هم ټول سم شي. که زه له تا، ته له ما او څوک له چا، یو له هغه بل نه ګیلي وکا، نو وطن به څوک جوړ کا؟

راسه! غاړه راکه، معافي به یو و بل ته وکړو. کومه انرژي چې اوس پر انتقاد او نیوکو مصرفه وو، دا به د هیواد لپاره مصرف کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

طالبان څنګه خلک دي؟

طالبان عجب ځانګړني لري؛ داسي ځانګړني، چي اوس وخت کي د نړۍ په نورو مشرانو، سیاسیونو او خلکو کي نه لیدل کیږي، راسئ یو څو یې درته ووایم. تاسو یې هم د سر او زړه په سترګو وګورئ، دا ځانګړني سل فیصده پکښي احساسولای شی:

خاکساري: له مشره تر کشره ټولو کي خاکساري ښکاري. مشران ئې ځان پسې شل موتره نه پسې کوي، یوازي یوه موټر کي روان وي هغه هم ضد مرمی نه وي. پر خاورو در سره کښېني او ساده وچه ډوډۍ درسره خوري.

اطاعت: عسکر او قومندانان یې سخت دښمنان وه، د طالبانو ورونه یې ورته وژلي وې، خو چي څنګه یې مشرانو عفوه وکړ، نو دوی هم دستي امر و منی، بیا یې له هیڅ کس څخه غچ نه دی اخیستی. حتی هغه عسکر یې هم غېږه کي ونیول، چي و طالب ته به یې شکنجې ورکولې. او تر ټولو زیات بیا ټول د الله اطاعت کوي.

جنګي تاکتیک: امریکا د ټولو مرین بحري ځواکونو، ټانګونو، او طیارو سره رانګا رنګ تاکتیکونه په کار واچول، خو دوی له ډېرو ساده تاکتیکونو سره د امریکا په ماته کي کار اخیستی.

سرښندنه او استشهاد: جالبه نه ده، چي څوک دي پر خپل خواږه ځان پوري بم تړي او بیا دي یې چاودي؟ دا بیخي لوی غیرت ته اړتیا لري، تاسي یې په اړه یوازي فکر وکړی. د بدری ۳۱۳ ځواکونو د یوه طالب مرکه مي اوریدل، ویل مو ټولو دا منلې، که همدا اوس امر وشي، نو مو ځان پسې بم هم تړو. کله چي اخلاص او سرښندنه دونده ډېره سي، نو بیا خامخا یو طالب په یکي یوازي ځان د شلو کسانو سره جنګ کوای شي، ځکه له مرګه نه ښېریږي.

دیني پوهه: مشران یې ټول لوی لوی دیني عالمان او شیخان دي، حتی ساده طالبان یې لا قاریان، حافظان او مولویان دي. د عصري زده کړو ماهرین هم خورا ډېر ورسره دي.

ادب او فرهنګ: ډېر لوی فرهنګیان دي؛ ښه نظم لیکي، ښه شعر وایي، ښه اوازونه یې دي. په راتګ سره یې په زابل او کندهار کي ښه مشاعرې جوړې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بېره نه لرل: تر خدای تعالی را کښته له هیڅا بېره نه لري، هو، هغه څوک به څنګه بېره ولري، چې په ځان پسې بم تړای شي او بیا چاودنه ورکوای شي. ټول جنګونه یې مخامخ کول او کوي.

له پیسو او موقف سره مینه نه لرل: هیڅ یو یې هم د لوړ موقف شوقي نه دئ. که یې اوس د کابل والي ته ووایې، چې ورسه په خوست کي ساده د طالبانو د یو اطاق چوکیدار شه، نو هم هیڅ ستونزه نه لري.

دلاوري: له نه تندي، نه له لوړي او نه هم له دوښمنه بېرېدلي دي. کله چې ښار ته داخل شول، مو ولیدل لڅي پښې وه. د دښتو، غرونو، لوړو او ژورو هیڅ پروا نه لري.

: طالبانو حیرانونکی منظر

کله چې ښارونو ته داخل شول، نو رب جل شانه ته به پر سجده شول، په زوره زوره به یې ژړل.

دا د خاکساری او د الله سره د مستقیم رابطې یو لوی ثبوت ده.

کله چې شپه کي امریکایان ټول له افغانستانه ووتل، سهار کي ټولو ولایاتو کي مشاعري او لمانځ غوندي جوړي شوې. د کندهار د والي یو ویډیو ټولنیزو شبکو ته را ښکاره شول، چې تور زاړه بوټونه یې په پښو دي، مخکي تردې، چې خپلي خبري شروع کړي سر یې خپل رب ته پر سجده کښېښود، د رب شکر یې ادا کړ.

جالبه نه ده، مخکښو به د امریکا، کاناډا، برطانیا څخه منله کول، خو طالبان د خپل رب څخه منله کوي.

نه پوهېږم، چې موږ لا ولي ړانده یو، لا ولي خپل رب ته نه تسلیمېږو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ايا موږ همدا نه غوښتل؟

پخوا به خلکو د نورو هيوادونو د وزيرانو، والیانو او ښاروالانو تصويرونه پر فيسبوک ښکته پورته کول، چې وګوره! زمونږ هغې پسې شل موټرونه او سل ساتونکي پسې وي. نور هغه وخت لاړ، اوس به والي، وزير، ښاروال او نور هرڅوک په يو ساده موټر کې سپرېږي.

و يو عادي رياست ته به شل تلا ښيانې وې، اوس بغير له تلا ښی ورشی.

له والي، ښاروال، او رئيسانو سره به نه پيدا کېدل، بيا به خلکو واسطې کولې، اوس بغير له واسطې ورشی.

د لوړ پوړو چارواکو بچيان به هم په ضر مرمی موټر کې سپرېدل، ددې چارواکو اولادونه به ډېر عادي ګرځي.

قانون به قانون وي، قانون جوړنکی او عملي کونکی به هيڅوک قانون نه شي ماتولای. پخوا به قانون تر ټولو وړاندې خپله قانون جوړونکو مات کړ.

د هيواد نورو سيمو ته نه شوای تلای، که به هزاره ولايتونو ته تللو، نو بېرېدلو به، لارو کې به د غلو بېره هم وه. ختم شول، دا ټول ختم شول. اوس په خپل موټر کې په ټول هيواد کې په بيغمه زړه ګرځی. ښه سم ګرځئ. نورو ته زيان مه رسوی، تاسو ته به زيان و نه رسول سي.

دا ټول زمونږ خپلي غوښتنې وې، موږ داسي هيواد او داسي چارواکي غوښتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس به څه کیږي؟

هیڅ به نه کیږي؛

- نور به نه د احمد شاه بابا توهین کیږي او نه به میرویس نیکه سپک ګڼل کیږي.
- نور به د دولتي چوکۍ په پیسو نه خرڅیږي.
- نور به مور پر پښو دریږو.
- که جنوبي ویتنام آزادي نه وای اخیستې، اوس به یې هیواد او هیواد وال غلامان وای. عیني که همدا اوس مونږه آزاد شوي نه وای، مونږه به غلامان وای.
- نور به مو کشران هلکان په عزت وي، خویندي به مو هم څوک نه تکلیفوي.
- نور به غلا، رشوت، چور او چپاول نه وي.
- نور به زمور په پرېکړو، داخلي کارونو او ورځني ژوند کې امریکایان او نور لاس نه وهي.
- نور به افغان پاسپورټ ارزښت پیدا کوي.
- نور به د فحشا ټغر ټول وي.
- نور به چارواکي اسلامپال او و اسلامی ارزښتونو ته ژمن خلک وي.
- نور مور پر ځان بسیا کیږو، د پاکستان او ایران و هرڅه ته به محتاج نه یو.
- نور به دلته په اسلامی روحیه سمبال کډونه روزل کیږي.

دا شل کاله مو مخکښ چارواکي او ډیموکراسي امتحان کړل؛ ستړی ژوند وو. راسئ، فقط لس کاله اسلامي نظام او اوسنې چارواکي امتحان کړو.

که دوی هم خراب وه، نو زه مو د دوی په وړاندې مبارزه کې ملګری یم. دا زما ستاسو او د الله تعالی سره وعده ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امریکا ماته شول او که په خپله خوښه ووتل؟

خلک دوو برخو ته وېشلي؛ څوک وای امریکا ماته شول او څوک وای په خپله خوښه ووتل.

دا موضوع لږ ژور څېړلو ته اړتیا لري. خو لومړی پردې بحث کول پکار دي، چې ایا د امریکا په وړاندي باید وسله پورته شوې وای او که یا؟

مونږ د خپل ژوند په اوږدو کي له ابتداء تر انتهاء و علماؤ او ملایانو ته اړتیا لرو. فکر وکاوی! مونږه غوږ کي ملا اذان کوي، دا د رسول ﷺ سنت ده. له نابلدي ښځي سره نزدېکت حرام ده، خو که هغه ښځه ملاصاحب درته نکاح کړي، نو بیا ستونزه نشته. جنازه مو تر هغو معطل کړې وي، ترسو ملاصاحب را ورسېږي. همداسي نو د ټول ژوند شیونه درواله.

کله چې امریکا پر افغانستان حمله وکړل، نو علماؤ په اتفاق سره د جهاد اعلان وکړ. د نړۍ په ځینو هیوادو کي د علماؤ ټولنو وویل، چې افغانستان کي جهاد روا نه ده، خو هیڅا هم و دې ته وه نه کتلی، چې زمونږ خویندي بې عزته کیږي، ځوانان وژل کیږي، د شپې دوې بجې مو کورته امریکایي عسکر د توپکونو سره راځي، ښځو کي مو نارینه تلاښي کوي، وینې بهیږي، شراب عامیږي، د عیسویت تبلیغ کیږي او...

د افغانستان علماؤ د هیڅا پر فتواګانو غوږ و نه نیو، و جهاد ته یې ادامه ورکوله. شل کاله وروسته دا وړځ راغلل، چې امریکایان مات شول او ووتل او طالبانو خپل سپین بیرغ ورپاوه. امریکا د افغانستا ورانول نه غوښتل، د افغانستان غلامي یې غوښتل.

اوس به راشم د دې تحلیل ته چې ایا مونږه هیواد کي امریکا ماته شول او که نه؟

د ماتي ځینې علامې و نښانې شته دي:

لومړی. افغانستان ته د امریکا راتګ یوازي او یوازي د یوې موخې لپاره وه؛ غوښتل یې د همېشه لپاره همدا اغلته پاته شي. افغانان غلام کړي. حتی و حکومت ته یې هم دا ډاډ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکړی وو. له حامد کرزي څخه یو خبریال د امریکا پوښتنه کوي، کرزی په ډاډ سره ورته وایي: امریکا هیڅکله افغانستان کي ماته نه خوري؛ امریکا به ۵۰ کاله نور هم همدا غلته وي. خو امریکا و نه کولای شوای، چې له ښارونو ور ها خوا بل ځای و اوسی. ولسوالی ټول له طالبانو سره وي. ډېر لږ وخت یې پر نیم افغانستان حکومت وکړ او روسته یې پلانونه ټول ناکام شول.

دوهم. کله چې کوم هیواد بله هیواد کي ماتیږي، نو وحشت ته لاس اچوي، په ویتنام کي امریکا، په هند کي انګلیسانو او په افغانستان کي روسانو په خپلو اخرو شپو کي وزیات وحشت ته لاس واچاوه. دا ځل هم امریکا همدا کار وکړ. خو خبره نه وه، چې د افغانستان په جغرافیه کي یوازي افغانان جنګ کوای شي، نور څوک نه.

دریم. له کوم هیواد څخه که اشغالګر هیواد په بریا وځي، نو بیا باید تشریفات ورته ونیول شي، دا د نړیوالو اړیکو اصول دي او که بغیر له تشریفاتو په پټه ووتل، نو شکست یې خوړلی ده. د ۲۰۲۱ کال له شروع نه امریکایانو خپله ماته منلې او له افغانستانه یې وتل شروع کړي دي. اول د ښوراو له اډې څخه د شپې په داسي حال کي ووتل، چې د افغانستان برحاله حکومت هم په خبر نه وو. سهار په خبر شول چې زمونږه امریکایي ملګري وتي دي. بیا د کندهار له میدانه ووتل، بیا د کیګو بیس (ملا صاحب سرای) څخه همداسي ووتل. کوم تشریفات نه دي ورته نیول شوي، په پټه ووتل.

څلورم. د ماتي بل لامل و هغه هیواد ته تاوان رسول دي. کله چې امریکایان له افغانستانه وتل نو د افغانانو شتمني یې ټول تخریب کړل، اطاقونه، جوړي لاري، او طیارې یې خرابي کړې. ځکه نور یې په جنګ وس نه رسېده، نو مالي تاوان یې راته ورساوه.

پنځم. که طالبان له منځه تللي وای؛ دا به امریکا ګټه وای. که طالبان په سوله و کابل ته راغلي وای؛ معنی دا جنګ ګټونکی او بایلونکی نه درلود. اوس ساعت چپه و څرخېدی، طالبان بغیر له سولي و کابل ته ورسېدل، چې دا مخامخ د امریکا ماته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم. که امریکا ماته نه وای، نو بیا یې ولي له طالبانو سره نرمی ته غاړه ایښودل او ولي یې دوحه کي توافقنامه امضاء کول؟ دا د ماتي بله لویه نښه وله، ترسو ځان له جنګ او مرګ وژغوري.

اووم. د ۲۰۲۰ د ډیسمبر په میاشت کي لا انجلس ټایمز وویل، امریکا له طالبانو سره لاسلیک وکړ، ترڅو له جنګه ځان و باسي او یوازي افغان ځواکونه و جنګ ته پرېږدي. دا د امریکا لویه ماته وه، چې ځان یې پټ او بل څوک یې جنګ ته ټېل وهل.

امریکا په افغانستان کي پر یوه وخت درې ماتي وخوړې

امریکا په شلو کالو کي په افغانستان کي درې ماتي وخوړلې؛ هره یوه به یې درته واضح کړو:

لومړی ماته

مخامخ یې له طالبانو سره په جنګ کي ماته وخوړل، زرګونه عسکر یې ووژل شول او له افغانستانه یې پښې سپکي کړې. داچې په خپله خوښه ولاړل، دا هم د ماتي یو ډول دئ. ځکه جنګ یې تر وس او توان پورته شو.

دوهمه ماته

د داسي حکومت بنیاد یې کښېښود، چې ریښې یې له فساد، خیانت او درغلی څخه جوړې وې. او د ټول حکومت تکیه یوازي او یوازي پر امریکا وه، چې د امریکا پایې په افغانستان کي طالبانو و نړولې، پر درواغو ولاړ حکومت هم را و نړېد. حتی په شل کاله جوړ شوی حکومت په ۱۱ ورځي و نړېد. افسوس.

درېیمه ماته

دا ډېره جالبه ماته وه. دا کوچنی درېیم نړیوال جنګ وو. کله چې په ۲۰۰۳ او ۲۰۰۴ کي طالبان راښکاره شول، نو د امریکا سره یې شاوخوا ۵۰ هیوادونه ملګري راغلل. بغیر له اول او دوهم نړیوالو جنګونو څخه هیڅکله هم په یوه هیواد کي د جنګ لپاره ۵۰ هیوادونه نه دي را جمع شوي. کله چې نورو هیوادونو د امریکا ماته په سترګو ولیدل، نو هغوی مخکي له مخکي شکست و مانه او افغانستان یې پرېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویتنام او افغانستان؛ د یوې ډرامې دوه ځلي تکرار

د کندهار پوهنتون استاد او په نړیوالو اړیکو کې ماسټر ممتاز الدین ممتاز د امریکا ماته په جنوبي ویتنام او افغانستان کې سره پرتله کړې ده، دا پرتله یې د "ویتنام از دین بین فو، تا سایګون" کتاب او د افغانستان و موجوده حالاتو ته په کتلو کړې ده. پرتله داسې ده:

یو: له جنوبي ویتنام څخه په تېښته د امریکایانو وتل هغوندې ډېر شرمناکه نه وه، لکه د افغانستان څخه. (مونږه ولیدل)

دوه: د سایګون (د جنوبي ویتنام پایتخت) تر سقوط وروسته ویت کنګ د جنوبي ویتنام ټول عسکر تر تېغ تېر کړل، خو په افغانستان کې د هغه برخلاف طالبانو ټولو ته عمومي عفوه اعلان کړل. (دا احسان یې باید و منل شي)

دریم: د شمالي او جنوبي ویتنام تر یو ځای والي وروسته کوم مقاومت شتون نه درلود، مګر دلته ځینې خاین او جاه طلبه عناصر لا هم د مقاومت نارې وهي چې باید په هر حالت کې محوه سي. (طالبان باید هغوی ته سبق ورکړي)

څلور: جنوبي ویتنام کې هم وزارتونه او منصبونه خرڅېدل او تر اوسمشره پورې ټولو په غلاوو کې ونډه درلوده. په افغانستان کې هم داسې کېدل.

پنځه: هغه مهال رسنیو د واقعیت خلاف د ویت کنګ پر ضد منفي تبلیغات کول او هغوی ځې د چین او شوروي لاسپوڅي بلل او دلته هم د واقعیت خلاف د طالبانو پر ضد منفي تبلیغات د مبالغې تر کچې کېدل او د پنجابي پېغورونه ورکول کېږي.

#شپږ: د جنوبي ویتنام اولسمشر په پای کې له یو عالم زرو (طلا) او ډالرو سره وتښتېدی او افغانستان کې هم د ډالرو عیني موضوع پېښه سوه

راسئ، حقیقتونه درک کړو، راڼده قضاوتونه ونه کړو
ایا د هغه جمهوریت لار تعقیب کړو، چې هرڅه په پیسو وه، عزت له خاورو سره خاوري وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا هغه طالبان نه دي

هر ولایت کي چې به خلک راکښېنستل نو سهار ته به طالبانو درست ښار نیولی وو، ښار کي به ساده، ږیرور، لنګوټې پر سر طالبان ګرځېدل. چې د خدای حق ځله ویایو، نو مور ته دا کلونه کلونه ویل سوي وه، چې طالبان بغیر له کومه دلیله وژل کوي، زیږه او تونډ خلک دي، رحم نه لري، پښتو یې نه ده زده په پنجاپي خبري کوي. نو ځکه په اولو څو ورځو کي ټوله ورځ د دوی پر شا وخوا و ګرځېدم، له لیري او نژدې مي و څارل، دا لاندي پایلي ته ورسېدم:

- خلک بېرېدل، چې دا به پنجاپیان وي، خو زمور خپل پښتانه ول.
- وحشي طبیعته او تونډ به وي، خو د ښار ځوانانو سره یې خندل؛ غږېږي یې ورکولې، ماشومان به هم پر را څرخېدلي وله.
- فاسد چارواکي و تښتېدل، زرګونه عسکر یې پرېښودل، خو طالبانو خپل شل کلن دښمن ته عفوه وکړل.
- مور چې ول خلک به نا امیده سي، خو خلکو له دوی څخه لوی امید ونه لرل؛ چا د برق غوښتنه کول، چا د لویو لارو د خلاصولو او چا بیا نور څه غوښتل.
- مور چې ویل د دوی په راتګ به خاموشي خپره شي، خو خلک یې استقبال ته را وتلل، د هغوی سره یې بیرغ په لاس کي اخیستی وو.
- که به موټر کي ښځي له چا سره وې، نو د شرعي او پښتني حیا په خاطر به یې سترګي کښته کړې.
- دا شل کاله مور ته ویل سوي وه، چې طالبان د پنجاب ملېشه ده، ښه پیسې ورته را روانې دي، خو دوی ساده غریب خلک وه، له جیب څخه به یې ډوډۍ را وکښل یا به یې له نانوایي څخه نیم ډوډۍ واخیست، وچه به یې خوړل.

یوه شي ته خاص متوجه سوی یم، تاسو هم متوجه سئ: د نظام مخالفین اکثره زاړه رشوت خواره، ظالمان یا هم سیکولران او یا له دین څخه ناخبره خلک دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو څو نوري اړینې خبرې

دلته غواړم پر یو څو اړینو خبرو باندې بحث وکړم، تاسو یې راسره ولولئ، ښه به پوی شئ. ان شاء الله

طالبان بې وفا نه دي؛ تر مرګه ملګري کوي

ایا تاسو ته د غیرتمن ملګري ملګرتیا خوند نه درکوي؟

کله چې روسان مات شول، نو د دوستم، حکمتیار، مسعود، رباني او نورو مشرانو په هیواد کې غوبل جوړ کړ، کله چې طالبان راغلل، نو ټول مشران و تښتېدل او عسکر یې پرېښودل. کله چې دوهم ځل بیا طالبان راغلل، د هیواد لوړ پوړي ټول و تښتېدل، خو کشران یې یوازې پرېښودل. حتی د حوزو قومندانانو لا هم خپل عسکر پرېښودل.

طالبان داسې نه دي، کله چې یې اول ځل افغانستان پرېښود هم یې خپل ملګري او لارویان نه دي پرېښودلي. طالبانو پر اسلام سختي منګولي ښخي کړي دي، نو ځکه پر وعده وفا کونکي دي. هیڅکله به موږ په بده ورځ پرېږدي.

طالبان ظالمان نه دي

ایا قومندانانو د خلکو اولادونه په زور نه بیول؟ ایا ستاسو څخه یې په کاروبار کې ډډه نه اخیستل؟ ایا ستاسې سره ظلم نه کېدی؟

و مو نه لیدل، چې طالبانو څومره خلک معاف کړل. دښمن یې په امن ترکوره و نه رسوی؟ طالبان د الله تعالی څخه ډېر ډېرېږي. هیڅکله به ظلم و نه کا.

تاسو او دین دواړو ته به طالبان عزت و بخښي

ما تصویرونه لیدلي، چې عبدالله عبدالله جماعتونه ورکوي، ما تصویرونه لیدلي، چې د کندهار د ولایتي شورا لوطی او فاسد مشر سید جان خاکریزوال جماعتونه ورکوي. خو اوس الحمدلله ټول چارواکي د علم څښتنان دي. د عالمانو سره به موږ او زموږ دین دواړه په عزت وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

راتلونکي کي به څه کیږي؟

ساده خبره ده، هیواد به امن وي، برېښنا به جوړه شي، فساد به له منځه لاړ شي، خلک به د هیواد هر ګوټ ته تلای شي، نوره نړۍ به موږ په رسمیت و پېژني او د جنیوا د کانفراس منل شوي پیسې به افغانستان ته ورکول شي.

ایا طالبان په یوه ورځ وطن جوړ کړي؟

تاسي چې له طالبانو سه څه غواړی، نو په اوله روځ یې غواړی؟

ستاسو نه دي په یاد، که به خلکو د حکومت پر بې عدالتی نیوکه وکړل نو ویل به یې د حکومت تر اوسه شل کاله کیږي په کراره به سم شي، منګر د طالبانو سه بیا په اوله ورځ عدالت او انصاف غواړی.

حکومت په هر ولایت کي خپل عسکر یوازي پرېښودل منګر طالب خپل عسکر څه کوي.

د حکومت د عسکرو سره یې لا ښه وکړل

۱۸ ولایتونه ونیول شول منګر بیا هم حکومت د درواغو وعدې ورکولې چې موږ به هرڅه سم کړو، منګر د طالبانو مېرانې او پښتونولی او کلک ایمان ته بیا خلک نه ګوري.

چې تر کابله ورسېدل، نو زه په دې باور یم، چې خامخا به وطن هم ښه ښایسته کاندي.

عوام و چاته زیان رسوي؟

یو څه خلک لګیا دي د طالبانو له عفوي څخه غلطه استفاده کوي، بېرېږم طالب بیا و هغه خپل پخواني حالت ته و نه ګرځي، بیا به د طالب لرګی او د عوامو څټ وي.

ښه خبره ده، که موږ هم خپل ژوند او روزګار ته بیرته عادي ادامه ورکړو، که مو د نظام حمایت او لاس نیوی په وسه نه وي، نو ستونزي ورته پیښي نه کړو، الحمدلله هغه وخت ولاړ، چې ښایسته زوی مو یوازي دوکان نه شوای کولای، لور مو یوازي مکتب ته نه شوای تلای، کاروبار مو نه شوای کولای، ځکه ججه را نه غوښتل کېدل.

خدای ته به شکر وکاږو، چې همدوی وطن راته جوړ کړي، موږ د وطن جوړېدل غواړو له دې سره مو کار نشته، چې چا راته جوړ کړ.

ربه، زموږ کور او زموږ هیواد نور هم پرمختللی او په امن کړې. آمین

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بیرغ مسئله کوچنۍ نه، ډېره ژوره ده

قناعت به کړو

زما دوې خویندې او یو ورور دئ، دوی کوښښ کوي، چې د ډوډۍ پر وخت زما د پلار بغلونو ته کښېني، هر وخت به یې جنجال وو. بیا مو په کور کې داسې یو قانون ورته جوړ کړ، چې هرچا که د ښوونځی ټول درسونه زده کړي وه او کورنۍ دنده یې پوره کړې وه، نو هغه به د پلار و بغلونو ته کښېني. اوس هغه څوک کښېني، چې ګټونکی وي.

را به سم د بیرغ موضوع ته؛

طالبان نه د کرزي او نه هم د اشرف غني جمهوریت دئ، چې په یوه، یا سل، یا زر یا میلیون رایو راغلی وي. طالبانو شل کاله سپین بیرغ تر سر ټرلی وو، قربانی یې ورکړې، زحمتونه یې وکښل، و د ړې رنګه والا بیرغ ته یې شکست ورکړل او بیا تر سپین بیرغ لاندې و ارګ ته ورسېدل. نه د چا په رایه راغلي او نه د چا په مرسته، نو بیا ستاسي خبره ولي و مني؟ چې زړه یې وي هغه بیرغ دي ودروي. ګټونکي دي او پرېکړې د ګټونکو لاس کي وي.

دا شل کاله د ړې رنګه بیرغ د پلویانو لخوا پر سپین بیرغ ټکان کېدل په دفاع کي یې طالبان شهید بدل. ایا طالبان دا هېر کړي؟ که یا موږ سر ناخلاصه خلک یاستو؟

کله چې د طالبانو رژیم وا وښت، که به د چا سره سپین بیرغ ولیدل شو، نو حکومت به د طالب په تور ځوروی، بندي کوی، ګونتانامو ته لېږی او تاوان به یې ورته رساوه، خو طالب ښه وکړل، د ړې رنګه بیرغ والا یې ټول معاف کړل، ایا دا ښه مو ستر ګو ته نه دریږي؟

د ړې رنګه بیرغ والا نارې وهي، چې دا زموږ ملي بیرغ ده، خو سپین بیرغ والا نارې وهي، چې دا محمدي بیرغ ده، ایا ملي کېدل لویه خبره ده او که محمدي کېدل؟

د ړې رنګه بیرغ والا کوچنک فکر لري، وای دا د افغانستان سمبول ده، خو طالب لوی فکر کوي؛ که دا سبا ملت د طالب سره لاس ورکړي، نو طالب به خپل سپین بیرغ پر اسلام آباد ودروي، چې امریکا د ۴۵ مملکتونو په مټ تښته وکړل، نو پاکستان څه شي ده، بیا به هغه وخت پاکستانیان وایي، چې مونږه د ړې رنګه بیرغ نه منو، خو که زموږ بیرغ سپین محمدي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي، نو دوی به یې هم مني. اوس ووایاستی، تر سپین بیرغ لاندې ګټې دي او که تر درې رنګه بیرغ؟

امریکا کافره ده، ستاسو اولادونه به بیا تاریخ کې لولي چې سپین بیرغ امریکا ته ماته ورکړل، که هغه وخت درې رنګه بیرغ وي او سپین بیرغ ورک وي، نو ایا دا به زمونږ دعوه غلطه ثابته نه کړي؟ ایا خپل د فتحې سمبول چې امریکا به ځني بېرېدل له ځانه سره و نه ساتو؟

څونده لوی فکر وکړو؟

زمونږه ځوانان دا شل کاله داسې ساتل شوي، وه چې ژورو ژورو شیانو ته ځې فکر نه کاوه، یوازې به یې سطحي شیانو ته فکر کاوه. زه د بېلګې په توګه یوازې مثالونه وړدم: په تېره اداره کې روزانه رشوت و اته میلیونه ډالر ته رسېدلی وو، په یو یا دوه لکه ډالر ښه مکتب جوړېدای شوای، خو مورږ فساد کانټرول نه کړای شوای.

په کندهار او ننګرهار کې پر هر بیرغ یو لک ډالر مصرف شول، ایا په یو یو لک ډالر مورږ مکتب نه شوای جوړولای؟ منم چې بیرغ اړین ده، خو ایا زما د وطن د ماشومانو تر اینده هم اړینه ده؟

درې زره اته سوه لکه افغانۍ (۳۸۰۰۰۰۰۰) یوازې د سلمې کلیزې په لمانځلو کې مصرف شوې. ایا ویلای شی، چې په دې مورږ څومره سولې برېښنا جوړوای شوای؟ څومره مکتبونه په جوړېدای شوای؟ څومره عامه ذهنیتونه په رغېدای شوای؟

ستونزه څه ده؟ مورږ بیده ساتل شوي وو، مونږه داسې روزل شوي یو، چې یوازې پر کوچنۍ شیونو تمرکز کوو. لوی فکر نه کړو، لس کاله و شل کاله بعد ته نه ګورو. همدا اوس مونږه نارې وهو، چې طالبان ولې دا نه کوي؟ ولې ها نه کوي؟ ولې حکومت نه اعلانوي؟ زما اغا، زما ګرانه، طالبان خپل قدمونه ډېر پاخه او محکم ږدي، ترڅو بیا لس کاله بعد ته په ستونزه که و نه اوسې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د طالبانو لباس او مقرری

دې وروستیو کې د طالبانو پر لباس او مقرریو باندې سختې نیوکې وشوې. خو الحمدلله د طالبانو نظام د تېر نظام په څېر له فیسبوک څخه نه ده جوړ، چې فیسبوک کې به ډنډوره شول، نو حکومت به هم پرېکړه پر هغه اساس وکړل.

معززو دوستانو!

طالبان په خپله خوښه راغلي، نه مونږه رایه ورکړې او نه مو ورته کمپاین کړی ده. په خپله خوښه راغلی دي، چې څه کوي، هغه دي وکړي.

کوم رنګ لباس انتخابوي، څوک مقرره وي، کوم قانون پلی کوي، خپله یې خوښه خپل، یې اختیار. فقط دي زمونږ شخصي حریم ته نه داخلیږي.

پوهیږم، چې د مخکنۍ نظام زیات لباسونه پراته دي، خو فکر دي کړی دئ، دا هغه لباسونه وه، چې اغوستونکو به یې له طالب سره جنګ کاوه. ایا د طالب نفس اخلي؟ هیڅکله نه. ګورئ، طالبان تاسو نه دي مطالعه کړي. امریکایانو طالبان نه وه مطالعه کړي، نو سخت ماته یې وخوړه.

د طالبانو په رأس کې شاوخوا ۲۰۰ یا ۲۲۰ کسان دي. ددې کسانو عمرونه تر ۵۰ کالو زیات دي. دې کسانو خپل ژوند ټول د اولس لپاره داولس په منځ کې تېر کړی ده؛ د خلکو پر زخمونو یې پټی لګولي، له خلکو سره یې ساده پیاز او ډوډۍ خوړلي دي، ساده خلک دي، مخونو کې یې نور او ستر ګو کې یې حیا ده، نو دا خلک به څنګه درغلي وکړي؟ دا خو هغه خلک نه دي، چې په بدو حالاتو کې یې افغانستان پرېښودلی وو، په ښو حالاتو کې بیرته راغلل، فحشا، ناروا، رشوت او میلې یې وکړې او بیرته لاړل. نه د اولس په منځ کې پاته سوي او نه یې حیا لرل، نه د اولس خواخوږي وه او نه یې په اولس خوابدښت.

دا شاوخوا ۲۰۰ مشرانو زیات انقلابونه لیدلي دي، د وطن ښه او بد حالت یې لیدلی ده، ایا مونږه د پرون پیدا شوي او د نن ځوانان شوي به تر دوی ښه پوهیږو؟ نه هیڅکله نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ادمه تر دې دمه غیرتمن خلک غیرتمن وي؛ هغوی سوپر طاقت امریکا په بغل کي وه لاپي یې وهلې، خو دې خلکو د سوپر طاقت په وړاندي جهاد اعلان کړی وو، جنګېدل او قربانۍ یې ورکولې.

د مخکنیو چارواکو اولادونه په امریکا او اندیا کي ناست وه، د طالب مشرانو اولادونه په سنګر کي ناست وه. یوه مشهوره وینا ده، "که په جنګ کي د مشرانو اولادونه مړه کېدای، نو جنګونه به نه وای". خو دا خبره طالبانو غلطه ثابته کړل. خپله به هم جنګېدل او اولادونو به یې هم سنګرونه فتح کول.

دا خبره یاد ساتئ، غیرتمن انسانان د خلکو په عزت سودا نه کوي، نه هم خپل اولس ته غلطي پالیسی جوړه وي.

نو بیا که دوی څوک مقرره وي، نو پرېږده، چې خلا ډکه کړي.

له مقرریو څخه د خلکو د شکایت اړوند فقط یوه بېلګه راوړم:

د لوړو زده کړو وزارت لپاره یې مولوي حقاني صاحب وټاکه، خلکو نارې کړې، چې انجینر تواب بالاکرزی دي وټاکل شي. خلک ړانده دي د تواب بالاکرزي او مولوي حقاني صاحب پرتله نه شي کولای.

له نن څخه دېرش کاله مخکي چې تواب بالاکرزی ماشوم شاګرد وو، هغه وخت مولوي حقاني صاحب په طب پوهنځی کي اسلامیات تدریسول، مولوي حقاني صاحب چې څومره غوښتن کتابونه په عربي، اردو، دري او پښتو لیکلي، انجینر صاحب تواب بالاکرزي تر اوسه مطالعه کړي لا هم نه دي.

خدای ته وګورئ، لږ له عدالت او انصاف نه کار واخلئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیخ ملا هبة الله حفظه الله ژوندی دی او که یا؟

له تېرو څو کلونو څخه یو د دروا غو اوازه ګډه شوې، چې شیخ ملا هبة الله حفظه الله وفات شوی ده. خو داسې نه ده. شیخ صاحب ژوندی ده او د طالبانو مشر دئ. دا اوازه اشرف غني او د هغه ملګرو ګډه کړل ترڅو د طالبانو صفونه خراب کړي، خو طالبانو ټولو د خپل مشر پر لاس بیعت کړی ده او هم یې ملاقات کړی ده.

یو واړیې اوازه ګډه کړل، چې ذبیح الله مجاهد نشته، بلکې دا یو درسته اداره ده. دوی د طالبانو پر ظرفیت اعتبار نه درلود. خو اوس ذبیح الله مجاهد را څرګند شو، د قلم او ژبې خاوند دی.

اوس به د امریکا پلویان او د تېر حکومت فاسد چارواکي د شیخ صاحب په رابنکاره کېدو سره دا اوازه ګډه کړې، چې دا خپله شیخ صاحب نه دی. چې دوی تر اوسه د طالبانو ساده ویاندویان ذبیح الله مجاهد او قاري یوسف احمدي نه وه لیدلي، نو شیخ صاحب به یې چیرې لیدلی وي. کمزوري خلک به په اوازو پسې ځي او غښتلي خلک به د الله و دربار ته سر ټیټوي او د امیرالمؤمنین سره به بیعت کوي.

او بیا به د دوی پر اوازه باندې کمزوري، له ماغزونو خلاص او غلام خلک باور هم وکړي.

د اسلامي سیاست ځنې ځانګړې دي:

نظام به الهی وي، چارواکي به د الله په قانون فیصله کوي

شورا به وي، د هیواد ټولې چارې به د هوښیارو او پوهو خلکو سره په مشوره وي.

اطاعت به موجود وي، ټول به د الله او د هغه د رسول اطاعت کوي او بیا به د امیر اطاعت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

طالبان او ډیورنډ

د طالبانو تر راتګ مخکې حکومت ډنډوره جوړه کړل، چې طالبان د پاکستان له خوا را استول شوي خلک دي؛ ډیورنډ به په رسمیت و پیژني. دا فقط د خلکو پر احساساتو راوستلو لپاره وشول، ترڅو د طالبانو غلط تصویر وړاندې کړي. زمونږ خلک هم ویل غوږ دي سپي یووړ، دوی د غوږ پر ځای په سپي پسې وځغستل.

د طالبانو په وخت کې د پاکستان او افغانستان ترمنځ خط یوازې په یو ساده ډبره باندې نښانې کړل شوی وو. پاکستان دوندې نرنه وو، چې راوځکېږي، خو تېرو شلو کالو کې هم پر تورخم او هم پر بولدک باډر باندې پاکستانیان را وځکېدل او ازغن تاریې کش کړ او پاخه تعمیرونه یې واچول. که طالبانو سره خپل د اولس خلک ملګري شي، د هیواد جوړولو ته ملا وتړي. روسته به طالبان خامخا ټول ډیورنډ له پاکستانه الې.

چې امریکا او ۵۰ هیوادونه په تېښته شول، نو بیا یو غلام پاکستان څوک ده؟

د هیواد جغرافیه ساتل د حاکم نظام مسؤلیت دئ

هر نظام مکلف ده، چې د خپل هیواد جغرافیه وساتي، د هوا، وچې او اوبو ساتنه به کوي. طالبان به هم ان شاء الله همداسې کوي. د ټول هیواد ساتنه به کوي، په دې جغرافیه کې به د اوسېدونکو خلکو ساتنه کوي. حتی ددې خاوري هغه اوسېدونکي، چې له هیواده دباندې دي، د هغوی ساتنه به په هغه هیواد کې کوي. بیا به داسې نه کیږي، چې ایران کې زمونږ افغانان خلک ژوندي سوځي.

د ډیورنډ لپاره د لستوڼي مار څوک دئ؟

د منظور پښتین حرکت ښه په درز ودې ته کار کوي، چې ډیورنډ دي په رسمیت و پیژندل شي. که څه هم په ظاهره خو د لر او بر پښتون او لوی افغانستان نارې وهي، خو دوی د جمهوریت تر شا ولاړ وه، ځکه جمهوریت دا کار خامخا کاوه. پر دوی باندې په دې لاندې دلایلو باور کول نه دي پکار:

- خپله مبارزه نه عملي کوي، ترڅو به یوازې چیغې وي؟
- د پښتونخوا ایالت سره د فاټا تر او نه لغوه کول.
- تر اوسه د پاکستان تر اساسي قانون لاندې ژوند کول
- پاکستان ور پکښې خلک وژني، خو دوی لا تر اوسه د عدم تشدد پر لار روان دي. د پاکستان په وړاندې نرم دریځ لرل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هيواده څوک اوولي تښتي؟

تاسو خلکو ته مه ګورئ، چې له هيواده تښتي. په تېرو شلو کالو کې دوه نيم لکه افغانان و اروپا ته په غير قانوني توګه تښتېدلي دي. ايا د هغه لارو له سختيو څخه خبر ياست؟ له افغانستانه تر جرمني پورې په پښو سفر کوي، د موټرانو په ټولبکسونو کې پټ ساتل کيږي، يخ او ګرمي ګالي او له ۱۲ زره څخه بيا تر شل زره ډالره پورې مصرف کوي. نو چې زمور خلک په دونده سختی باندې له هيواده تښتېدل، نو اوس به په مفته نه تښتي؟

ايا و مو نه ليدل، چې بيخي ډېر خلک په اوبو کې د اروپا پر لاره غرق شول.

دغه لاندې خلک له هيواده تښتي او له طالبانو سره يې نه ده جوړه:

- چا چې خلکو ته تاوان رسولی وي؛ غصب يې کړی وي، يا قتل او يا هم بل ظلم
- څوک چې په فحشا او نورو جرمونو تورن وه
- څوک چې له دين څخه بېزاره وه
- چا چې امريکا باندې ايمان درلود او په خدای ايمان نه لري او بېريږي، چې رزق به مې ختم شي.
- څوک چې په فحشاء روږد وه
- هغوی چې حوزو ته به يې د خلکو اولادونه د لواطت لپاره په زوره
- هغوی چې د کور پر شاوخوا به يې ډېرين ديوالونه او پر ځان لس موټره امنيت را ګرځولی وو
- هغوی چې زرګونه ډالره به يې معاش اخيستی او اداري فساد به يې ښه پر طبيعت کوی
- هغوی چې کال کې به يو يا دوه واره د تاجکيستان او ډوبی په نايټ کلبو کې عياشی ته تلل
- هغوی چې د کابل په هوټلونو کې به په شرابو مست پراته وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د طالبانو د نظام ریښې کښل څه تاوان لري؟

که اوس موږ ټول لاس په کار شو او د طالبانو د نظام ریښې وکاږو، نو تاوان به څوک کوي؟ معلومه ده، که مونږه د نظام ریښې وکاږو نو تاوان به یوازي او یوازي مونږه ته ورسېږي. ځکه مخکنی نظام خو بیا نه شي راتلای، له رئیس جمهور نه بیا تر حوزو قومندانانو پورې ټولو د خلکو اعتبار مات کړ او وتښتېدل.

ښه خبره ده، چې د همدې نظام لاسنیوی وکړو. مونږه ښه زراعت لرو او ښه معدنونه لرو. امن خو راغلی، غله هم ونیول شول یا نیول کیږي، نشه یې خلک بندیان شول یا به بندیان شي، ترڅو نشه پرېږدي، اداري فساد هم صفر شو. اوس به خلک ښه په ارامه کار وکړای شي.

زه پر الله تعالی ایمان لرم. دا زما عقیده ده، زما باور دئ چې د ټول هیواد علماء ورسره ملګري سوي دي، نو دا خامخا ښه نظام دی. او که یې موږ ملاتړ وکړو، نو دا به عثماني او عباسي خلافت شي.

د فیسبوک او نورو ټولنیزو شبکو له کار کونکو څخه یوه غوښتنه

کومښې وکړئ، چې څوک وحشت، بې اتفاقي، نفرت او غلط افکار خپروي، د هغې موضوع مطابق له دې کتاب څخه لیکنه ورته کمینټ کړئ او ورته میسج یې کړئ.



چاپ کال: ۱۴۴۳ هـ ق

(c) ketabton.com: The Digital Library

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library